تل افغان
www.talafghan.com
خپلواکه، ناپيلي، ټولنيزه او فرهنګي وېب پاڼه

# د

# لوی افغانستان

# نړيوال پښتو ټلويزيون

# خوب که حقيقت؟

پښتو ټلويزيون ولې او د چا له پاره !؟

غواړئ چې پخپله ژبه ټلويزيون ولرئ؟

## د لوی افغانستان نړيوال پښتو ټلويزيون يو خوب که حقيقت!؟

پښتانه، کلونه کلونه کېږي چې د خپل پلرني هيواد دننه او بهر، له يوې وژونکې خاموشۍ سره مخ دي؛ لا هم کوم ځانګړی بدلون نه دی راغلی؛

تل افغان
www.talafghan.com
خپلواکه، ناپیلي، ټولنیزه او فرهنګي ویب پاڼه

پښتانه د سیمې او نړۍ د نورو قومونو په پرتله، د نورو ټولنیزو او اقتصادي ستونزو په څنګ کې، د راډیو، ټلویزیون، ورځپاڼو او مجلو د نشتوالي د غټې کولتوري ستونزې سره هم مخامخ دي. پښتانه، په دې برخه کې، د سیمې د غیر پښتنو په پرتله لا ډېر وروسته پاتې دي؛

پښتانه په تبلیغاتي ډګر کې ورځ په ورځ لا پسې وروسته پاتې کېږي؛

پښتانه د رسنیو له پیاوړي ځواکه بې برخې دي؛ راځئ چې له خپلو خلکو سره په خپله ژبه خبرې وکړو؛

راځئ چې نړیوال له خپلو دردونو او د خپل هېواد له رښتینو پېښو نه خبر کړو؛

راځئ چې خوږه ژبه، پښتو، د رسنیو په نړیوال ډګر کې د لیکلو، ویلو، لیدلو او اوریدلو جوګه کړو؛

راځئ چې خپلو بچیانو ته په هسکه غړۍ ووایو چې دا ټلویزیون ستا د مور، ستاد پلار او ستا د ولس په ژبه دی؛

پښتانه ټول په خپله ژبه د نړیوال ټلویزیون غوښتونکي دي!

د پښتنو غږ په ملي او نړیوال کچ نه اورېدل کېږي؛ لږ فکر په کار دی، آخر ولې!

یوازې دا موږ پښتانه د وروستیو دریو لسیزو د جګړو قرباني یو؛ لږ سوچ په کار دی، دا ولې!؟

سره جګړه وګټله موږ پښتنو، خو برخه شوه د نورو! په دې خپل ګرېوان کې سر ښکته کړئ!

د دعوت اداره د خپلو نه ستړي کېدونکو هلو ځلو په پای کې وتوانېده چې له یوې بهرنۍ کمپنۍ سره، د انترنت له لارې او هغه هم په ارزانه بیه د یوه ژوندي تلویزیون د جوړېدو خبره پخه کړي!

د ټلویزون پروګرامونه په ډېرې اسانۍ د نړۍ له هر هیواد او هر ځای نه چلېدای، خپرېدای او لیدل کېدای شي؛

له روسیې نه نیولې تر نوي زیلاند او استرالیا پورې، له کاناډا نه نیولې تر چیلي او ارجانتین پورې او له ناروې نه نیولې تر جنوبي افریقا پورې په ژوندۍ بڼه لیدل کېږي؛

د لوی افغانستان ټلویزیون، چېرته چې انترنت شته، هلته ستاسو ملګری دی؛

تل افغان
www.talafghan.com
خپلواکه، ناپيلي، ټولنيزه او فرهنګي ويب پاڼه

مینه وال له کمپیوټر پرته د ځانګړو سامان آلاتو ، د ساري په توګه جادو باکس، نه په ګټې آخیستو سره ټلویزیون په ډېرې آسانۍ لیدلای شي !

د ټلویزیون مرکز اوس اوس په ناروې کې دی، له جوړېدو وروسته شونې ده بل هېواد ته یوړل شي؛

### د ټلویزیون د مشرۍ جرګه :

د تلویزیون د مشریزې پینځه کسیزه جرګه ګۍ په ناروې کې ده؛

### نړیواله مشورتي جرګه:

تلویزیون، د چارو د لا ښه سمون له پاره، یوه نړیواله لس کسیزه مشوره تي جرګه ګۍ هم لري؛

### د ټلویزیون ژبه او نوم :

د ټلویزیون رسمي ژبه پښتو ده.

د ټلویزیون نوم لوی افغانستان غوره شوی درانه هېوادوال کولای شي په دې اړه خپل نظر او وړاندیز زموږ سره ژر تر ژره شریک کړي .

د لوی افغانستان ټلویزیون بې پرې او د هېواد له هیڅ یوې سیاسي ډلې سره تړاو نلري؛

د لوی افغانستان ټلویزیون یوازې د خپل پښتون ولس له پاره او د همدې مېړني ولس استازیتوب کوي؛

د خپل پښتون ولس مرستې او چوپړ ته راودانګئ، د خپلې خوږې او بې وسه پښتو ژبې پرمختګ ته ملا وتړئ؛

په خبرو نه کیږي، عمل په کار دی؛ هر څوک چې خپلې ژبې او خپل ولس ته کار کوي، ورسره مل شئ، ملا یې وتړئ !

کولای شئ په دې اړه خپل نظرونه او وړاندیزونه له موږ سره شریک کړئ؛

د لوی افغانستان ټلویزیون یوه ګډه ملي هڅه ده: د هیچا نه دی، د هر چا دی؛ د ملکیت دعوه یې نه کوو، موږ یې د چلولو درانه ملي مسؤلیت ته غاړه ایښې !

که د جګړې اور مړ نکړای شو، د پښتنو د درد او مظلومیت غږ خو به ، لږ تر لږه، نورو ته ورسوو !

تل افغان
www.talafghan.com
خپلواکه، ناپیلي، تولنیزه او فرهنګي وېب پاڼه

### موږ ستاسو هرې مرستې ته اړتیا لرو؛ او تاسو هرڅه کولای شئ !؟

هر افغان ، هر پښتون، هره پښتنه تر خپله وسه کولای شي په دې ملي رسالت کې له بېلابېلو لارو مرسته وکړي:

عاجله مالي مرسته، د خپل وس او توان په اندازه؛

په خپلو پښو باندې د ټلویزیون تر درېدو پورې پرله پسې مرسته

تخنیکي مرسته ؛د پروګرامونو د جوړولو مرسته؛

د پروګرامونو د چلولو او لا ښه کولو مرسته؛

هر اړخیزې ( ټلویزیوني )مرستې؛

پروګرامونو ته د نوم ورکولو مرستې؛

ویدیوي او ګرافیکي مرستې؛

### ستاسو بېړنیو مالي مرستو ته اړتیا :

تر هر څه لومړی ستاسو مالي مرستو ته خورا اړتیا ده او ستا مالي مرستې د ټلویزیون د پروژې د پیل زیری دی.

په لومړي قدم کې تاسو هر یو تر خپله وسه مالي مرسته کولای شئ او هر څه چې وي باید ژر وشي.

د ټلویزیون د جوړولو دغه کمپنۍ ته په لومړي قدم کې باید نیمې پیسې د کار د پیل نه مخکې ورکړل شي تر څو هغوي کار پیل او د درې میاشتو په جریان کې یې پای ته ورسوي او د ټلویزیزن د خپریدو زمینه برابره شي.

### د لوی افغانستان ټلویزیون نه ملاتړ او ورته کار کول :

په خپل ښار او هیواد کې د لوی افغانستان د ټلویزیون د استازیتوب له پاره ملا وتړئ، د ټلویزیون اداري ته خپله لنډه سوانح او یو انځور را واستوئ !

په هر هېواد او ښار کې او د افغان میشتو په هر سیمه کې کولای شئ چې د ملاتړ ډلې ( مالي ملاتړ، تخنیکي ملاتړ او نور... ) جوړ کړئ، دعوت د خپلې خوښې یانې په داوطلبانه ډول په لومړي مهال کې مخ پر وړاندې بیول کیږي. د ناروې دننه او بهر د ځوانانو استعدادونو تخنیکي او مسلکي مرستو ته ډېر ضرورت دی .

تل افغان
www.talafghan.com
خپلواکه، ناپيلي، ټولنيزه او فرهنګي ويب پاڼه

**د اوس له پاره اعلانونه :**

د ملي سوداګرو اعلانونه، له ټلويزيون سره د هغوی د مالي مرستو په بدل کې، له همدا اوسه، کېدای شي د يوه کال لپاره په وړيا ډول خپاره شي !

ملا وتړئ؛ د دې ملي ارمان په تر سره کولو کې مو يوازې مه پرېږدئ !

پوستي پته:

**Dawat,**

**P.O.Box 289,**

**2001 Lillestrom,**

**Norway.**

د تليفون شميرې او بريښناليک:

Tel. +47.63844384

Mobil. +47-90856195,

www.dawat.no

dawatmedia@gmail.com

بانکي پته:

Postbanken, AC# 0530 2294668

BIC (SWIFT-adresse): DNBANOKKXXX

A/C for international payments:

NO15 0530 2294 668

خپلې مرستې د بانک تر څنګ کې د راجستر پوست او ويسترن يونين له لارې هم راليږلای شئ

Western Union

Mohammed Tariq Bazger

ټل افغان
www.talafghan.com
خپلواکه، ناپېیلي، ټولنیزه او فرهنګي وېب پاڼه

د مرستو له رارسیدو سره سم به د منني سند درواستول شي.

په دې اړه خپل نظرونه او وړاندیزونه له موږ سره شریک کړئ او که هر ډول پوښتنه لرئ د بریښنالیک او یا هم د تلیفون له لارې یې زموږ سره شریکه او دا پیغام تر خپله وسه هر پښتون او پښتنې ته ورسوئ .

**مننه**

پښتانه ټول په خپله ژبه دنړیوال ټلویزیون غوښتونکي دي !

لاندې د دعوت د خپلواکو رسنیو د مرکز د ټولپوښتنې نتیجه ګورئ چې د انترنت له لارې تر سره شوې ده !

ستاسو په نظر د رسنیو (مطبوعاتو ) په ډګر کې پښتو او پښتانه کومو رسنیو ته ډېره اړتیا لري؟

| | |
|---|---|
| پښتو تلویزیوني چینلونه | ٪72.5 |
| پښتو انترنتي ودیوګانې | ٪2.9 |
| پښتو وېبپاڼې | ٪10.6 |
| ورځپاڼې | ٪10.3 |
| مجلې | ٪3.7 |

یادونه: د لوی افغانستان د ټلویزیون د کارونو د پرمختګ او په دې اړه نور معلومات به وخت پر وخت مینه والو ته وړاندې شي